امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۳۰ سرطان الی۴ اسد ۱۴۰۳

شماره شصت و ششم

## د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست د جاپان هيواد له سفير سره وکتل او اړمنو ته د رسېدنې په اړه يې خبرې وکړې



محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست، د خپل کار په دفتر کې په کابل کې مېشت د جاپان هيواد له سفير کورمياتاکايوشي سره وکتل او په داخل او بهر کې د ظرفيت لوړولو پروګرامونو پلي کولو، په اداره کې د اړتيا وړ وسايلو، په اضطراري حالاتو کې د پېښو مديريت لپاره د رضاکارانو پر طرحې جوړولو او اړمنو ته د رسېدنې په اړه خبرې وکړې...

ادامه در صفحه۲

## د پېښو پر وړاندې چمتووالي ملي ادارې سرپرست د کندهار ولايت پېښو سره د مبارزې رياست د کارکونکو سره په جلا جلا ډول وکتل او د هغوی د کاری چارو ارزونه يې وکړه



محترم الحاج ملا نورالدين ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, کندهار ولايت ته د سفر په ترڅ کې د ياد ولايت پېښو سره د مبارزې له رياست...

ادامه در صفحه۲

## د محترم الحاج ملا نورالدين ترابی په مشرۍ د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې اداری غونډه ترسره شوه



د محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په مشرۍ اداري غونډه، د محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال(حاجي وارث) د پېښو چارو د همغږۍ مرستيال، محترم الحاج مولوي عبدالرحمن زاهد...

ادامه در صفحه ۳

## محترم الحاج ملا نورالدين ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, کندهار ولايت ته د سفر په ترڅ کې د ياد ولايت پېښو سره د مبارزې له رياست




د محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په مشرۍ نن سهار د روان کال د محرم الحرام په ۱۶ نېټه د کندهار ولايت له يو شمېر امارتی مسؤلينو او مخورو سوداګرو...

ادامه در صفحه۳

## د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست د جاپان هیواد له سفیر سره وکتل او اړمنو ته د رسېدنې په اړه یې خبرې وکړې



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، د خپل کار په دفتر کې په کابل کې مېشت د جاپان هیواد له سفیر کورمیاتاکایوشی سره وکتل او په داخل او بهر کې د ظرفیت لوړولو پروګرامونو پلی کولو، په اداره کې د اړتیا وړ وسایلو، په اضطراری حالاتو کې د پېښو مدیریت لپاره د رضاکارانو پر طرحې جوړولو او اړمنو ته د رسېدنې په اړه خبرې وکړې.

په دې کتنه کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، د جاپان هیواد سفیر ته د ښه راغلاست ترڅنګ د هغوی له بشری مرستو مننه وکړه، او د دفتری وسایلو، د ظرفیت لوړولو پروګرامونو پلی کولو، ورکشاپونو او د دې ادارې د کارکونکو لپاره د پېښو مدیریت په برخه کې د تجربو شریکولو غوښتنه وکړه.

ورته مهال، په کابل کې د جاپان سفیر د افغانستان له خلکو سره د جاپان د خلکو د دوستی په اړه په خبرو سره وویل: د جاپان خلک د افغانستان له خلکو سره هر ډول مرستو ته چمتو دی.

ښاغلی تاکایوشی روزنیز پروګرامونه له اساسی پروژو څخه وبلل او د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې د کارکونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو برابرولو او د دفتر اړتیا وړ وسایلو ورکولو ژمنه یې وکړه.

همدارنګه د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې, د جاپان د JICA موسسې او د ترکیه هیواد د ټیکا موسسې ترمنځ په همکاری او همغږۍ, د یادې ادارې د کارکونکو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونو پر پلی کولو هم خبرې وشوې.

په پای کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، پر دوه اړخیزې همغږۍ او تفاهم ټینګار وکړ او د متقابلې همکاری ژمنه یې وکړه.

## د پېښو پر وړاندې چمتووالي ملي ادارې سرپرست د کندهار ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د کارکونکو سره په جلا جلا ډول وکتل او د هغوی د کاری چارو ارزونه یې وکړه



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, کندهار ولایت ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت پېښو سره د مبارزې له ریاست څخه په لیدنې سره د یاد ریاست کاری چارو هر اړخیزه څېړنه او ارزونه وکړه او ترڅنګ یې له بشپړ پرسونل سره په جلا جلا ډول وکتل او د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل.

همدارنګه محترم قاری عبدالسلام غازی د کندهار ولایت پېښو سره د مبارزې رییس, د یاد ریاست په ګدامونو کې د شته خوراکی او غیرخوراکی توکو او د خپلو کړنو او پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل او خپلې ستونزې یې هم شریکې کړې.

ورته مهال محترم ښاغلی ترابی صاحب, د یاد ریاست پرسونل ته د هغوی د ستونزو د حل لپاره ژمنه ورکړه او د چارو په ښه توګه ترسره کولو لپاره یې هغوی ته اړینې لارښوونې وکړې.

## د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې اداری غونډه ترسره شوه



د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست په مشرۍ اداری غونډه، د محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال(حاجی وارث) د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال، محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد د مالی او اداری عمومی رییس او مرکزی رییسانو په شتون کې ترسره شوه.

په دې غونډه کې د احتمالی پېښو له جریانه د بېړنی او په وخت سره د راپور پر ترلاسه کولو، په دوامداره توګه پېښو ته د رسېدنې د امارت عالی کمېسیون او ولایتی کمېټو پر فعاله ساتنې، د ادارې د ننه د روغتیایی کلینیک او د کانتین فعالولو او په اداره کې د ښځینه کارکونکو د معاشونو او امتیازاتو حواله کولو پر څرنګوالی خبرې وشوې.

همدارنګه د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست، په اداره کې د ننه د روغتیایی کلینیک جوړولو او کانتین په اړه د یو شمېر کارکونکو غوښتنې ته په اشارې سره ووېل: چې په هره شعبه کې د ننې پخلۍ کول د بې نظمی رامنځته کېدو لامل کېږی او باید د کارکونکو لپاره د غرمې ډوډۍ چمتو کولو په برخه کې د یوې حل لارې پیدا کولو لپاره یوه کمېټه وټاکل شی.

نوموړی په بېلابېلو برخو کې د کاری مداخلې له منځه وړلو او د هر ریاست لپاره په دوو ملی ژبو د دندې لایحې ترتیبولو، د معلوماتو راټولو او په مرکز او ولایاتو کې د نوکریوالی فعالولو او پېښو ته د رسېدنې د امارت عالی کمېسیون د غونډې جوړولو په اړه خبرې وکړې او ترڅنګ یې د عالیقدر امیر المومنین حفظ الله له حکم سره سم د ښځینه کارکونکو د معاشونو په برخه کې هم نظرونه راټول او خبرې وشوې.

په پای کې پرېکړه وشوه چې، د نوکریوالی د بودجې لاسته راوړلو، د ښځینه کارکونکو امتیازاتو او په وخت سره پېښو ته د رسېدنې د امارت عالی کمېسیون غونډې ترسره کولو په اړه د ریاست الوزار محترم مقام سره خبرې وشی او په دی برخه کې باید یاد مقام ته یو وړاندیز وشی.

## د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په مشرۍ د کندهار ولایت له یو شمېر امارتی مسؤلینو او مخورو سوداګرو سره غونډه ترسره سوه




د محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په مشرۍ نن سهار د روان کال د محرم الحرام په ۱۶ نېټه د کندهار ولایت له یو شمېر امارتی مسؤلینو او مخورو سوداګرو سره د یاد ولایت د سوداګرۍ او پانګونې خونې په دفتر کې غونډه وسوه, او د سپین بولدک ولسوالۍ د کاکړانو په منډۍ کې د اورلګېدنې له امله اوښتو مالي زیانونو په اړه هر اړخیزه خبرې وسوې.

دا غونډه چې د تېرې ورځې د کمېټې د غونډې په تعقیب جوړه سوې وه, د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست په خپلو خبرو کې ووېل: چې موږ داسلامی امارت مسؤلین دلته راغلي یو, ترڅو د دې اورلګېدنې له امله اوښتي زیانونه په کره ډول معلوم کړو او د سوداګرو ستونزې او شکایتونه واورو او ترڅنګ یې د اورلګېدنې لاملونه هم معلوم کړو.

همدارنګه محترم ترابي صاحب په خپلو خبرو کې ووېل: چې د اورلګېدنې په اړه د وقایوي تدابیرو نیولو ترڅنګ سوداګرو ته باید عامه پوهاوی هم ورکول سي ترڅو په راتلونکي کې د دغه ډول پېښو څخه مخنیوی وسي.

ورته مهال د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست زیاته کړه, چې د سپین بولدک ولسوالۍ دکاکړانو منډۍ لپاره باید یوه طرحه جوړه سي او د مشرتابه مقام له تایید وروسته دې دغه طرحه عملي سي.

په پای کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست, د کاکړانو منډۍ د سوداګرو نظرونه او وړاندیزونو واورېدل او ویې وېل چې ستاسو نظرونه به د افغانستان اسلامي امارت له مشرتابه سره شریک کړو, او ترڅنګ یې سوداګرو د افغانستان اسلامي امارت څخه د هر ډول مرستې غوښتنه وکړه.

## محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې سرپرست کندهار ولایت ته په سفر کې د سپین بولدک ولسوالۍ د کاکړانو له منډۍ څخه لیدنه وکړه




محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, د محترم الحاج ملا جانان سابق د ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس په ملتیا, د یاد ولایت اړوند د سپین بولدک ولسوالۍ کاکړانو منډۍ‌کې د وروستۍ اورلګېدنې د حالت ارزونې او سوداګرو ته د اوښتو مالی زیانونو د څېړنې په موخه کندهار ولایت ته سفر وکړ.

په دې لیدنه کې د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, له محترم حاجی بشیر د سپین بولدک ولسوال, او د یادې ولسوالۍ په منډۍ‌کې د اورلګېدنې له امله زیانمنو هټۍ والو او سوداګرو سره وکتل او له هغوی سره یې خواخوږی او غمرازی وکړه, او ترڅنګ یې د اوښتو زیانونو په اړه په خبرو کولو سره د سوداګرو او هټۍ والو ستونزې او شکایتونه واورېدل او د سوداګرو په مالی زیانونو یې خواشینی وښوده.

همدارنګه د محترم ملا شیرین آخند د کندهار ولایت والی لخوا د محترم حافظ نورالله د اور وژنې عمومی رییس په مشرۍ یوه کمېټه جوړه شوې وه چې د سپین بولدک ولسوال یې ملتیا کوله, او یاده کمېټه به د هټۍ والو او سوداګرو له منځه یو شمېر هټۍ وال او سوداګر وټاکی ترڅو د یو طرزالعمل له مخې د زیانونو کچه معلومه کړی.

ورته مهال د پېښو پر وړاندې د چمتووالی ملی ادارې سرپرست, په خپلو خبرو کې د کمېټې په کارونو کې د روڼتیا پر رعایتولو ټینګار هم وکړ.

همدارنګه یو شمېر سوداګرو وویل: چې که څه هم موږ له مالی اړخه ډېر زیانمن شوی یو او که د افغانستان اسلامی امارت له موږ سره مرسته وکړی او که نه, خو موږ ترینه ملاتړ کوو او د اسلامی امارت هر ډول پرېکړې ته مو غاړه اېښې ده.

د یادونې وړ ده چې, د سپین بولدک منډۍ کې د اورلګېدنې له امله څه د پاسه 400 هټیو اور اخیستی و, چې په پایله کې یې سوداګرو ته درانه مالی زیانونه اړولی و.

په پای کې, د سپین بولدک منډۍ سوداګرو او هټۍ والو د افغانستان اسلامی امارت څخه په یاده منډۍ کې د اوور وژنې سیټم فعالولو, د لارو پراختیا او اساسی سړک جوړولو غوښتنه وکړه.

## بازدید معین انسجام امور حوادث از ساحات آسیب‌دیده در ولسوالی جلریز



محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث همراه با ملا نور محمد بدری، رئیس وقایه و کاهش، هیات تخنیکی و آمر رسیدگی به حوادث ولایت میدان‌وردک، به منظور دلجویی و غم‌شریکی با ورثه شهدا سیلاب‌های اخیر عازم ولسوالی جلریز شده، و با سیلاب زده‌گان و محاسن‌سفیدان دیدار نمود.

در دیدار با سیلاب‌زده‌گان معین انسجام امور حوادث اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث گفت: که به اساس هدایت مقام محترم ریاست الوزراء، محترم معاون اقتصادی ریاست الوزراء و محترم سرپرست اداره ملی آماده‌گی مبارزه با حوادث امروز به ولسوالی جلریز آمده ایم تا مشکلات، چالش‌ها و پیشنهادات شما را استماع نموده و آنرا به رهبری امارت اسلامی افغانستان انتقال دهیم.

وی ضمن ابراز همدردی، غم‌شریکی و اتحاف دعا برای شهدا و مجروحین اخیر گفت: بعد از تثبیت متضرران، برای آنان رسیدگی می‌گردد. وی به آمر آماده‌گی مبارزه با حوادث این ولایت، هدایت داد که خسارات ناشی از سیلاب‌ها را در این ولایت بررسی نموده، تا به اساس این بررسی برای متضرران رسیدگی بهتر صورت گیرد.

در همین حال مردم ضمن خوش‌آمدید گویی به هیات متذکره از معین انسجام امور حوادث، خواهان تطبیق پروژه‌های وقایوی، ترمیم سربند، اعمار سرک و کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی شدند.

## ۲۷ خانواده سیلاب‌زده در ولایت کابل کمک‌های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی دریافت کردند



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل در همکاری با سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان غذایی جهان، یونیسف و موسسه DRC، برای ۲۷ خانواده سیلاب زده کمک‌های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود.
در جریان توزیع این کمک‌ها محترم الحاج مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل گفت: این خانواده های کمک شده از اثر سیلاب های اخیر در ولسوالی های سروبی و کلکان متضرر شده بودند، که بعد از سروی به اساس هدایت محترم سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث برای آنان رسیدگی شد.
محترم حقانی صاحب افزود: که از طرف سازمان غذایی جهان، به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو دال، ۱۸.۲ کیلو روغن، ۲ کیلو نمک، ۲.۱ کیلو بسکویت، از طرف سازمان بین المللی مهاجرت به هر خانواده مبلغ ۹,۰۰۰ افغانی، از طرف DRC به هر خانواده مبلغ ۱۱,۰۰۰ افغانی و از طرف یونیسف یک کیت اطفال توزیع گردید.
رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل ضمن قدردانی از کمک‌های موسسات خواهان کمک‌های بیشتر برای متضررین در این ولایت شد.

## برای ۲۱۹۰ خانواده متضرر از حوادث در بادغیس کمک نقدی توزیع شد



موسسه انکشافی و اجتماعی رازی، در همکاری با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، برای ۲۱۹۰ خانواده متضرر از حوادث طبیعی در چند ماه اخیر، در مرکز و چهار ولسوالی آن ولایت پول نقد مساعدت کرد.
در این روند، برای ۴۸۰ خانواده در ولسوالی تگاب، ۴۹۰ خانواده در ولسوالی قادس، ۳۰۰ خانواده در ولسوالی سنگ آتش، ۳۴۰ خانواده در ولسوالی آب کمری و ۵۹۰ خانواده در قلعه نو مرکز آن ولایت برای هر خانواده مبلغ ۷۵ دالر آمریکایی(۵۳۰۶) افغانی توزیع شد.

## جلوگیـــــری از بالا رفتن تلفـــــات و خسارات ناشـــی از جاری شدن سیلاب

### قسمت چهارم مقاله



عبدالباری رحـم دل
مدیر عمومی NDMIS

● **تجربیات بین‌المللی**

تجربیات بین‌المللی در زمینه مدیریت و کنترل سیلاب بسیار گسترده است و کشورهای مختلف با توجه به شرایط جغرافیایی، اقلیمی، و اقتصادی خود رویکردهای مختلفی را برای مقابله با این چالش ارائه کرده‌اند. در زیر به برخی از این تجربیات بین‌المللی اشاره می‌کنم:

۱. **جاپان**:

جاپان یکی از کشورهای پیشرو در زمینه مدیریت سیلاب است. این کشور از فناوری‌های پیشرفته مهندسی زمینه‌ای استفاده می‌کند مانند سدها، بندرهای محافظ، و سیستم‌های زهکشی مقاوم، همچنین از سیستم‌های هشداردهنده پیشرفته برای اطلاع‌رسانی به مردم در معرض خطر استفاده می‌کند.

۲. **هلند**:

هلند کشور دیگری است که با چالش‌های سیلاب مواجه است و به دلیل وضعیت جغرافیایی خاص خود تجربه زیادی در زمینه مدیریت سیلاب دارد. این کشور از سیستم‌های مدیریت آب پیشرفته و ساخت سدها، دریچه‌ها، و بندهای محافظ استفاده می‌کند. همچنین از روش‌های نوینی مانند ساخت جزایر سبز و ساخت سطح‌بندی زمین برای جلوگیری از آسیب‌های ناشی از سیلاب استفاده می‌کند.

۳. **آمریکا**:

آمریکا نیز یکی از کشورهایی است که با سیلاب‌های بزرگ مواجه است، به ویژه در مناطقی مانند شمال غرب و جنوب شرقی. این کشور از تکنولوژی‌های مختلفی مانند سدها، سیستم‌های زهکشی، و اسکرین‌های محافظ برای کنترل جاری شدن سیلاب استفاده می‌کند.

۴. **هند**:

هند یکی از کشورهایی است که با سیلاب‌های عظیم مواجه است و سالانه با موج‌های سیلابی شدیدی روبه‌رو می‌شود. این کشور از سدها، سیستم‌های زهکشی، و بندهای محافظ استفاده می‌کند، همچنین از سیستم‌های هشداردهنده پیشرفته برای هشدار دهی به مردم استفاده می‌کند.

این تجربیات نشان می‌دهد که هر کشور با توجه به شرایط خود و با استفاده از فناوری‌ها و روش‌های متنوعی می‌تواند به مدیریت و کاهش خطرات سیلاب بپردازد. ارتقاء همکاری بین‌المللی و به اشتراک‌گذاری تجارب می‌تواند در این زمینه بسیار مؤثر باشد.

## نکارت ذیل را قبل از وقوع سیلاب رعایت نمایید

**پیام ما:**

- در ساخت و ساز در مناطق سیل خیز از مواد مقاوم استفاده نمایید
- از ساخت و ساز در مسیر سیلبرها خود داری نمایید
- اسناد و وسایل ضروری را در محل امن قرار دهید
- آماده کردن بکس کمک های اولیه
- ذخیره کردن آب آشامیدنی صحی
- ذخیره مواد غذایی